مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نصير فياض ۲۰۲۶/۰۳/۲۸

# بې‌ضميره مدني او سياسي کسان


نصير فياض

د نړيوالو اړيکو په سيستمي نظريه کې، د هېوادونو ترمنځ د تعامل (عمل او عکس‌العمل) د کچې د سنجولو يو له تر ټولو زيات کارېدونکو فکتورونو څخه سنجشي پارامترونه دي. دغه پارامترونه د داخلي‌(Input) ، بهير (Process) او پايلې (Output) د سيستمونو له لارې لوبغاړو ته ښيي چې د مقابل لوري د مخنيوي يا لږ تر لږه د عکس‌العمل کچه په کوم حد کې ده.

اکثره لوبغاړي د داخلي سيستم له لارې هدفمند اقدامات چې اکثره د مقابل دولت لپاره منفي او ننګونکي بار لری د يو واکسين په شان په کمه اندازه تطبيقوي، تر څو د مقابل لوري د غبرګون د شدت له مخې هغه تنظيم کړي او عادي‌سازی کچې ته يې ورسوي. که د مقابل دولت د غبرګون کچه له ۲۵ سلنې څخه ټيټه وي، نو لومړنی لوبغاړی د خپل اقدام شدت له ۵ تر ۱۰ سلنې پورې لوړوي.

لوبغاړي انتظار باسي تر څو د مقابل لوري عکس‌العمل د ۵۰ درجې نه ټيټې کچې کې د يو څه مودې لپاره تحمل کړي، او بيا په تدريجي ډول د هدف د ترلاسه کولو لپاره د خپلو اقداماتو د تطبيق اندازه زياتوي او وروسته يې عادي کوي.

اصلي ټکی دا دی چې لوبغاړي په دې بهير کې په هممهاله توګه د عامه ډيپلوماسۍ، نرم ځواک او د مقابل لوري د ټولنيزو شبکو د يوې برخې د استخدام له وسيلو کار اخلي، تر څو وکولای شي د هدف د غبرګون شدت تر ټولو ټيټې کچې ته راکم کړي، څو د عادي‌کونې په پړاو کې له لويو ستونزو سره مخ نه شي.

په ډېرو مواردو کې پر سيستمي نظريې تمرکز د اسرائيلو د پوځي ستراتيژۍ په چوکاټ کې د خپلو ګاونډيو پر وړاندې کارول شوی، تر دې چې نن ورځ که اسرائيل د سيمې پر کوم هېواد پوځي بريد وکړي، يا د يهودي ټولنې د خطر تر نامه عادي ګڼل کېږي او يا هم په ډېرې چټکۍ سره عادي کېږي. له همدې لارې اسرائيلو وتوانېدل چې د فلسطين او سوريې نورې سيمې اشغال کړي او يا هم د ګاونډيو هېوادونو پر چلند بشپړ کنټرول ترلاسه کړي.

له بده مرغه، نن ورځ پاکستان هم ورته پاليسي د افغانستان پر وړاندې عملي کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په پيل کې د ننګرهار، پکتيا او خوست پر فضا د جنګي جټونو بې له بمبارۍ مانوروُنه، او وروسته تر کابل پورې بمبار، په تدريجي ډول د عکس‌العمل پارامترونه تر کنټرول لاندې راوستل. له بده مرغه زموږ له منځه یو شمېر بې‌ضميره مدني او سياسي کسان هم د پاکستان په ګټه تبليغات کوي.
اوس د اندېښنې وړ موضوع دا ده چې پاکستان د سيستمی نظريه له لارې د ارزی کنټرول ګفتمان په لاره اچولی دي .
سره له دې چې بي‌بي‌سي په خپلواکه توګه نه ده توانېدلي چې د پکتيا پر پوله د پاکستان له لوري زموږ د څو کيلومتره خاورې د نيولو راپور تاييد کړي، خو دا موضوع د افغانستان د هوښيارۍ لپاره ډېره حياتي ده، څو هېڅکله هم د داسي اقداماتو پر وړاندې د عکس‌العمل له شدت څخه ستړي نه شي ،که هغه ديپلوماتيک اعتراضونه وي، مدني حرکتونه، د فېسبوک او ټويټر ليکنې، او يا مستقيمه مبارزه. اما متوجه بايد ووسو چې د پاکستان پر وړاندې په د مبارزه کی د احساساتو کنټرول مهم رول لری .
که څه هم زموږ د ټولو احساسات جريحه داره شوي دي، خو لوی تصميمونه بايد د عقلانيت او دقيقو محاسباتو پر بنسټ ونيول شي، نه د احساساتو پر اساس.
سره له دې چې فرضي کرښه د سرحد په توګه رسميت نلری ، خو کله د (لر او بر ) په شعارونو کې ډوبېدل که څه هم د ملي احساس له نظره زموږ حق دي، خو د شرايطو، وخت او د دواړو لورو د ځواک او کمزوری د سنجش له مخې کولای شي لويی ستونزی رامنځته کړی.
په پای کی د هر افغان د مسووليت په توګه، بايد د هر ډول تېري پر وړاندې د عکس‌العمل شدت په همغږۍ سره، بې له ستړيا او بې له تفرقې، کمپاين شي. د خاورې دفاع د هر اوسېدونکي لپاره د ناموس دفاع معنا لري ، که دا دفاع په ژبه وي، ليکنه وي، يا عمل.
او هغه کسان چې زموږ له منځه د ديپلوماتيک فشار چينلونو ته لاسرسی لري، بايد تر بل هر وخت زيات د پاکستان د تېري او غصب پر وړاندې د فشار لارې مستندې او فعاله کړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ